# زېرى

علمي- څېړنيزه، ادبي پنځلس ورځنۍ جريده — د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري لمريز

پينځنۍ (پنجشنبه) د زمري ۹ - ۱۰مه ګڼه، پرله پسې (۴۷۳-۴۷۴) مه ګڼه، د ۱۴۰۵ل کال د زمري ۲۹مه، د ۱۴۴۸هـ.ق. کال د ربيع الاول ۷مه او د ۲۰۲٦م.کال د اګست۲۰مه


د هغه جـــــــــــهان سودا واړه دلې ده
که څوک کاندي تجـــــــــارت په دا دنيا

نېک له نېـــــــــــــکو سره بويه، بد له بدو
که څوک غواړي ولايـــــــــــــت په دا دنيا

عبدالرحمٰن بابا

۱


پوهاند دوکتور مجاور احمد زيار


# له سوسوره تر چومسکي
## له رغښتوالي تر پسرغښتوالي

فرديـــــــناند دې‌سوسور (Ferdinand de Saussure) (۱۸۵۷ - ۱۹۱۳م) له آره د شلمې پېړۍ لـــــه پيل سره د نوې ژبپوهنې اندونو ته د کرن جامه ور واغوسته او لـــــه همدې سره ورته د نوې ژبپوهنې پلار وايي. تر ده را روسته د دغې پوهنې بېلابېل ښوونځي، لکه د پراګ، کوپنهاګن او امريکايي هغه پرلپسې منځته راغلل چې د سوسور له ليدتوګو يې الهام اخيست.

که څه هم سوسور پخپله د رغښت (Structure) نومونه (اصطلاح) نه ده کارولې، خو څنګه چې را روسته د ده پر پليونۍ منځته راغلي ښوونځي پـــــه ټوليز ډول رغښتوال (Structuralist) او بهير يې رغښتواله Structuralism ونومول شو، نو لـــــه دې لامله سوسور د رغښتوالې ژبپوهنې پيلامګر هم بلل کېږي.

اروپايي او پــــــه ځانګړي ډول د چلندوالې ساپوهنې يا (Behaviorism)، په نورو ټکو، د يوه وګړي (فرد) د چال چلند او ادراکاتو پر بنسټ د بلومفيلد پـــــــه مخکښۍ امريکايي رغښتوالو رغښتي اندود او کــــــارتوګه دومره ښندې (افراط) ته ورسول چې د ژبې آره او رښتيني موخه او دنده يې له پامه وغورځوله، مانيز اړخ يې له لويه سره کم ارزښته وګاڼه او ډېر زور يې پر جوليز اړخ واچاوه. ان د سوسور دوې غبرګې بنسټيزې ټولۍ (مقولې) يې له يادِه وکښلې: signifé-signifiant په نورو ټکو، د ښوونـد = ښوولي(دال و مدلول) او بيا نانګېروړه يا نـــــا محسوسه langue بڼه يې خو يومخيزه لـــــه پامه وغورځوله او نګېروړه کړنيزه بڼه، وينا (Parole) يې هم د يو شمېر لنډو تنګو ثبت کړو غونډلو (جملو) تر کچې راټيټه کړه.

همدا ښنديز (افراطي) امريکايي رغښتواله وه چې د هماغې (شلمې) پېړۍ تر نيمايې را روسته نووم چومسکي (Noam Chomsky) پـــــــــر وړاندې را پورته شو او پـــه زيـــږند - لېږند ګـــــــــــــرامر - Generative Transformational Grammar سره يې په ژبپوهنـه کــــــې يو ستر انقلاب راوست. له دې سره يې په دغه پوهنه کې د پسرغښتوالې - Post structuralism بنسټ هم کېښووه، بې له دې چې په دغه نامه يې ونوموي، کټ مټ، لـکه سوسور چې پر ژوند، نه ده پخپله ځان د رغښتوالې پيلامګر بللی و او نه بل چا، بلکې دا نور انديالې او پوهيالې ستې دي چې د خپلو شننو او څېرنو پــــــه مټ دغه نومونې (ترمونه) رامنځته کوي.

که خبره د پرتلې شي، سرې دې منښتې ته اړ ووځي چې ووايي، له سوسوره نه يوازې چومسکي تر ډېره الهام اخېستی، بلکې سراسري يو پېړييز دود يې د ارزښت ښکارندويي کوي. ان ډېر اروپايي ژبپوهان تراوسه پر دې اند و ګروهه دي چې د چومسکي ((زيږند - لېږند)) ليدتوګه له انګرېزۍ او هغه هم، له امريکايي هغې سره را پيل شوې او نور يې دومره ټوليزوالی نه دی موندلی، لکه څنګه چې.(مکنزي:۱۹۸۰) د تږي د ډاکټري تيزس (The Grammar of Clitics. Evidence from Pashto and ...) په کره کتنه کې دې سکالو ته ګوته نيولې ده.

۲مخ


ل: پروفيسور محمد نواز طائر

پښتو ژباړه: محمد الله ساپی


# په پښتو ژبه کې د ماشومانو ادب

**د پروفيسور محمد نواز طائر "پښتو ژبې او ادب ته لنډه کتنه" اردو اثر درېيمه (وروستۍ)مقاله**

که ژبه هره يوه وي، پرمختګ يې کړی وي او يا نه، که په دولتي اډانه کې پرې چارې تر سره کېږي يا نه، خو که د هر چا مورنۍ ژبه وي، ماشوم له لومړۍ ورځې خبرې په همدې ژبه پيل کوي. د ژبې دا ځانګړنې په خپل ځای کې رښتينې دي. هر ماشوم د مور په غېږ کې خپله مورنۍ ژبه زده کوي او د دې په ذريعه د خوا و شا حالاتو جاج اخلي او په کرار کرار د دې ژبې په برکت د پوهيدلو او فکر کولو هڅې کوي. د پېښو د معاملاتو تجزيه او تجربه کوي. ژبه د ماشوم د ټولو وړتياوو د را برسېره کيدو يوه ذريعـه وي چې د همدې له امله ماشوم متمدن او مهذب کېږي.

قرآن کريم دې لورې ته څومره څرګنده اشاره کړې ده.

مفهوم: نه خو به هلته بې ګټې خبرې وي او نـه سپکې سپورې، خو د دوی خبرې به سلام او سلام وي.

په کومه ژبه کې چې د ژوند اداب د خبـــرو نـزاکـت او د اظهار د ښکلا عمل څومره ډېر وي، هغې ژبې ته هـومره مهذبه پرمخ تللې او متمدنه ژبه ويلی شو. بيا په دې ژبـه کې د ادب هغه فنپارې پنځول کېږي چې د ټولنـې د هر پاړکي د ذهني ودې لپاره په کار راځي. په دې ډول ادب د عامو وګړو اړتياوې پوره کوي او له خپلو عمرونو سره سم د خپلې دلچسپۍ د وړ کتابونو لـــه مطالعې څخه ګټـه اخلي. هغه ژبې چې د اوسني عصر لـــــه غوښتنو سره سمې په سهي معنا پرمخ تللې دي، پـــــه دوی کـې د ماشومانو لپاره ډېرې ادبي کتابونه، مجلې، رسنۍ او نـور اړين ادبي مواد پنځول کېږي او هـــــره ورځ چـاپ او خپرېږي. د پښتو ژبې په تړاو ويلای شو چې پـه دې ډګر کې د عصر له غوښتنو سره سم ډېر کار نه دی شوی.

> په پخوانيو ليکوالانو کې يو شخصيت داسې تېر شوی دی چې هغه د علامه واعظ کاشفي کـتـاب "کليله و دمنه" په پښتو نـثر ژبـاړلـی دی. همـدا شخصيت د خوشحال خـان خـټـک لمسـی او د اشرف خان خټک زوی افضل خان دی او د اټـکـل له مخې همدا لومړنی کتاب دی چې په رښتـيـنې ډول پـه پښتـو ژبـه کـې د مـاشـومـانـو د ادب استازولي کولی شي. له بده مرغـه پـه پـخـوانـيـو ليکوالانو کې بل ليکوال او شاعر د ماشومانو ادب لپاره کار نه دی کړی.

د پښتو له اسلامي عصر څخه وړاندې ادب خو د تـاريـخ کندې ته لويدلی دی او د اسـلام لـه خـپـرېـدو وروستـه پښتنو چې په ډله ييز ډول اسلام ته دزړه له کـومـې غـاړه کېښوده، نو نه يوازې پښتنو اسلام د عقايدو او د تعـلـيـم تر بريده خپل کړ، بلکې د کومې ژبې له امله چې دوی تـه اسلام رسېدلی و، دا ژبې يې د ښوونې او روزنې ژبـې هـم وګرځولې. په دې ډول د دوی لپـاره د عـربي او فـارسـي دواړه ژبې د دين او ثقافت ذريعه وګرځېده. تر يوه وختـه همدا ژبې د پښتنو د پوهانو او ليکوالانو د تحرير

۳مخ


نعمت الله صديقي


# تيوري ولې غلطيږي؟
## "ادبي تيوري پېژندګلو او قسمونه" ته کتنه

زموږ په معاصره کره کتنه او ادبي مباحثو کـــــې لا هم د ادبي تيوري کار و زيار په خپله د تيورۍ غونډې منظم او منسجم نه دی؛ بلکې دا د يوه نيم ليکوال او نقاد هـڅـې يې هم بېخي ابتدايي خاپونه او نقشونه دي. څنګه چې مو ادبي تيوري کمزورې او تقريباً نشته، همدغسې مو يې پـه اړه تراوسه نوي نقد او تيورۍ تــــــه هم پياوړي او ژمن ليکوال او نقادان پيدا نه کړای شول، بـــــرعکس کله خـو داسې هم شوي، چې د همدې نيمګړې تمايل په اساس يو شمير ليکوالو او نقادانو مو همدا ادبي تيوري د نـــــورو د مباحثو له ليدلوريو په ناسمو ورانپوهاويو لا پسې تر بـدو هم بدتره کړې ده؛ ځکه خو يې بايد د اساسي او تحـلـيـلي تفسير ترڅنګ د عام بحث و مباحثې لارې هـم بـايـد پـه جديت سره تعقيب او وڅارل شي.




"ادبي تيوري پېژندګلو او قسمونه" چـــې د ښاغلي مـحـب وزير نيمه تدريسي اثر دی، د همداسې يـوه کـمـزورې او نيمه ذوق په اساس په نيمه او نيمګړې زيار او تمايل ليکلی او نيم ښه اثر دی، د نيم او نيمګړې دغه پـرلـپـسـې تـکـرار شايد تاسې د جملو او کلمو تسلسل يا تصادف وبولئ؛ خـو زه يې د استدلال لپاره لاندې څو خبرې يوازې د اسـتـدلال لپاره هم نه راوړم؛ بلکې د ادبي تيورۍ د لوستونکيو لـپـاره د يو څو ناسمو پوهايو روڼاوی هم لازم او مهم بولم.

تدريسي اثر ډېرې وخت د خپلو تدريسي محدوديتونـو او نصابي سطحيت په وجه هغسې نه وي؛ څومره چې د يوه مضمون عام حدود او علمي پراختيا وي، دوی د سل و زرو دلايلو په اساس همدغه ناغيرې هم تـوجـيـه کـولای شي او د مضمون او موضوع ضرورت يـــــــې هـم ورتـه همدومره ګڼلی شي. بله خبره دا ده، چې ډاکتر صـاحـب محب چون له فکري پلوه مترقي او په ادبياتو کـــې يې د کار و زيار هڅې د يوه خاص او نظرياتي شعـور پـر پـلـه درنې دي؛ نو ځکه يې هم بنده د تيورۍ پـــــه اړه دا کـار هغسې ژمن او صداقانه نشي ګڼلی، چـــې ګڼې ده بـه د همدې تيوريکې اړتيا او ضرورت له مخې تيورۍ تـه مخـه کړې وې ځکه تيوري د همده غونډې د سوچه نظرياتي او مترقيانو په فکر لايعنيت دی او ښايي د تـــــرقي پسند محمد علي صديقي په ناسمه خبره چې تيوري خــــو د ويډيو ګيم دی، دی يې ناسمي نه ګڼي، بلکې پـــه هـمـدا ويډيو ګيم توجيه ورته جوړوي، چې ګڼي "ويډيو ګيم خـو هم په انساني ذهانت کې د زياتوالي سوب ګرځي" يعـنـي دا که له يوې خوا د تيورۍ دليل نشي کېدای؛ نو بل خـوا د محمدعلي صديقي د خبرې رد هم نه دی؛ بـــلـکې دا خبره خو هم د محمد علي صديقي ده؛ برسېره يې دا چې دی هم د همدې توجيه په اساس تيوري اخلي

> ما چې د خبرو په سر کې د نيـم ښـه والي کـومـه خبره وکړه، هغه يې په نصاب کې د دغسې کتابونـو او موضوعاتو ځايول دي؛ خو خدای دې وکړي، چې دغه ځايول يوازې فېشن يا د خانې د ډکولو لپاره نه وي؛ بلکې سنجيده، محسوس او د رښتينې ګټې پـه هدف زموږ د بحث و مباحثې برخه وګرځي.

۳مخ


ل: پروفيسور سيال کاکړ

ژ: څېړندوی بشرمل زرغون


# د پښتو او دري وييزي مشترکات

پښتو او پارسي د نړۍ له پـېـژنـدل شـوو او اوڅـارو ژبـو شمېرل کېږي، دغه دوه ژبې له لرغونو زمانو راهيسې د خلکو ژبه وه او تر دې دمه د نـړۍ ډېـر خـلـک پـه دغـو لرغونو ژبو خبرې کوي، يادې دوه ژبې ډېرې لرغونې او له يو بل سره ژبنۍ خپلوي لري، ژبپوهان د دغو دوو ژبـو پـه باره کې نظر لري چې دغه لرغونې ژبې له يو بل سره ژبنۍ اړيکې لري او د آريايي ژبو له کورنۍ څخه شمېرل کېږي، دا خوښې وه چې پارسي ژبې پـــــه تېر پېر کې شـاهـي دربارونو ته لار موندلې وه او بدمرغي دا ده چې پښتو پـه شاهي دربارونو کې دننه نه شوه، همدا لامل دی چـــــې پارسي ژبې لومړيتوب موندلی او پښتو وروسته پـاتـې ده، په هر حال!! د دغو ژبو ژبنۍ خپلوي له تېره تـــر اوسـه همداسې ټينګه پاتې ده.

موخه مې دا ده چې پښتو او پارسي ژبې د ژبـپـوهـنـې لـه نظره يو بل ته ډېرې نږدې دي، په ځانګړې توګه د وييـونـو تر منځ ډېر مشترکات لري، په دواړو ژبـو کـې اوس هـم ځينې لرغوني آريايي وييونه د زړښت له امله ژوندي پـاتـې دي؛ البته په دغو ژبو کې د وخت د تېرېدو پـــه اساس ځينو وييونو خپل لرغونی شکل له لاسه ورکړی او ويـنـګ (تلفظ Pronunciation) له مخې پکې ډېـــر بدلونونـه راغلي دي، په دې کې شک نشته چې پښتو او پارسي ډېـر زيات مشترک وييونه لري؛ خو بيا هم يوه ژوره څېړنـه او پلټنه غواړي، په لاندې کرښو کې د پښتو او پارسي د ډېـر نږدېوالي او ژبنۍ خپلوي په خپله کتلای شئ.

زه زيار وباسم؛ کوم وييونه چې د پښتو او پارسي تر منځ ډېر زيات نږدېوالی لري؛ د ګرانو لوستونکـو خـدمـت تـه وړاندې کړم، ړومبی هغه ګډ وييونه راوړم چې د دغو دوو ژبو تر منځ په يوه شکل ليکل کېږي؛ البته کله کله ځيـنـې وييونه د دواړو ژبو تر منځ په وينګ کې يو څه سره تـوپـير کوي، دلته يوې څرګندونې ته اړتيا ليدل کېږي چـــې پـه عامه کچه په پښتو او په ځانګړې توګه پـــه کـنـدهـاري ګړدود کې د پښتو او پارسي ډېر زيات مشتـرکـات لـيـدل کېږي؛ مهرباني وکړئ! لاندې وييونه کتلای شئ:

| پښتو | دري | پښتو | دري |
|---|---|---|---|
| ارمـان | ارمان | اخوند | اخوند |
| انګور | آنګور | ارزان | ارزان |
| آواره | آواره | اشتها | اشتها |
| آواز | آواز | اصيل | اصيل |
| آوازه | آوازه | انار | آنار |
| آهسته | آهسته | انتظار | انتظار |
| آيينه | آئينه | اندازه | اندازه |
| باد | باد | آب ودانه | آبو دانه |
| بازيګر | بازيګر | آرام | آرام |
| باغ(بڼ) | باغ | آزادي | آزادی |
| بالا | بالا | آشپز | آشپز |
| باور | باور | آشپزي | آشپزی |
| بدان | بدان | بار | بار |
| بدن | بدن | باران | باران |
| بعد | بعد | بازو | بازو |
| بيماري | بيماری | باغچه | باغچه |
| پرواز | پرواز | بام | بام |
| پناه | پناه/فناه | بانګ | بانګ |
| پنجشنبه | پنج شنبه | بايد | بايد |
| پوچ | پوچ | بخت | بخت |
| پيوند | پيوند | بد | بد |
| پيدا | پيدا | بغل | بغل |
| تبر | تبر | بيمار | بيمار |
| تخم | تخم | بيدار | بيدار |
| ترازو/تله | ترازو | پوست | پوست |
| تکرار | تکرار | پيری | پيری |
| تکيه | تکيه | تازه | تازه |

۲مخ

## له سوسوره تر چومسکي...

د دې لپاره چې تر هر څه له مخه مو سوسور په ژبپوهنه کې د رغښتوالې د بنسټوال په توگه لنډ پر لنډه پېژندلی اوسي، د چيف ووکونـدا - Chief Wauconda نـومي امريکايي يوه ليکنه را ژباړو چې د ژبپوهنې زده کړې لپاره اروپا ته راغلی او هغه يې د تېر اگست پـر شپاړسـمـه د خپل وېبلاگ له لارې خپره کړې ده:

رغښتواله له آره د فردیناند دې سوسور (۱۸۵۷-۱۹۱۳) له نامه سره غوټه ده. ده د ۱۹۰۷ او ۱۹۱۱ کلونو تر منځ د ژنېو په پوهنتون کې د ټوليزې ژبپوهنې په اړه پـــه درو دورو (کورسو) سره د ژونديو ژبو څېړنيز بهير ته له بېخ و بنسټه بدلون ورکړ. د دغو درو کورسونو يو سېنتېز يې بيا تـــــــر مړينې روسته پليونو (شاگردانو)، شارل. بـالي (Ch. Bally) او البرت. سيشيهي (A. Sechehaye) پـر ۱۹۱٦ کال د ((ټوليزې ژبپوهنې بـنـسـټـيزې پـوښـتـنـې، مسألې)) په نامه خپور کړ. دا يـــــو داسې اثر و چې د ژبپوهنې په پرمختيا کې يې يو اوږونټکی رامنځته کړ.

دغه اثر داسې يـــــــو شمېر نوې نومونې او جـاجـونـه (اصطلاحات أو مفاهيم) را وپېژندل چې تر لسيزو-لسيـزو روسته لا په اروپا او امريکا کې د نومـهـالـې ژبـپـوهـنـې د ترمينالوجۍ او تيوريو يوه نه جلا کېدونـکـې بـرخـه پـاتـې شوې ده. سوسور نه يوازې د ((ژنيو ښوونځي)) بنسـټـوال و، بلکې همدا راز يې لومړی ځل د ټولـيـزې ژبـپـوهـنـې د اېښتنو پوښتنو (مسألو) په تړاو د چال چلنـد د يـوه نـوي جاج (برداشت) يو پرلغښتي اډانه (سېستماتيـکـه طـرح) رامنځته کړه. له دې کبله ده ته هممهاله د شلمې پـېـړۍ په ژبپوهنه کـــــــې د رغښتوالـې (Structuralism) د بنسټوال په سترگه هم کتل کېږي.

رغښتواله (Structuralism) هم پر خـپـل وار د ورتـېـرې پېړۍ د ژبپوهنې د ککوالې يـا ذره گـرايـۍ(Atomism) پـه غبرگون کې د ژبني ساينس د پرمختيا يو نوی پېر گڼل شـوی دی (ککواله په دې مانا چې د ژبپوهانـو څـېـړنـې د ژبې پـر رغنده ټوکونو يا متشکله اجزاوو را ټولې وې او هغه يې جلا - جلا ارزول، بې له دې چې د يوه پر لـغـښـتـي سـېـسـتـم پـه سترگه ورته وگوري او خپلمنځي اړيکي يې په پام کې ونيسي - زيار).

له رغښتوالې سره د ژبني سېستم دنـنـه د ژبـپـوهـنـيـزو يوونونو (واحدونو) پرچار (عمليې) نوی پاملرا تـــولی (پـر متمرکزه توجه ولاړ) چلند راميدان ته شو او ژبنی سېستم يې د نښو يو داسې پرلغښتي ټولگه راوپېژندله چـــې په خپل منځ کې سره رغښتي اړاو تړاو لري. په دې تـرڅ کـې ژبه يوه داسې ټولنيزه ښکارنده (پديده) وښوول شوه چـې له آره يو خبراويز (مخابروي) چار (نقش) لري. پــــر دې سربېره بيا دا خبره چې تر هر څه له مخه يې د هممهالـې ارزونې(څېړنې) پر ارزښت ټينگار کېږي. د ژبې پـــــه تړاو سوسوري ليدتوگه لس کليدي ټولی (کټېگورۍ) رانـغـاړي چې په ياد شوي اثر کې وړاندې شوي دي.

### له ذهني ژبې تر کاروني ژبې

ژبـــــــه د داسې تړوني (قراردادي) غړيـزو پـيـلامـونـو (سېمبولونو) يوه پرلغښتې ټولگه يا سېستم دی چـــې د هغو ارزښت د اړوندې ټولنې لـه‌خـوا ټـاکـل شـوی او د هماغې ټولنې د وگړو ترمنځ د وبله پوهاوي تړاو ټينـگـوي. (سوسور۱۳،۹، ۱۴؛ ماريو پای۱۴۱. باطنی د چومسکي له مخې،۱۵: ۱۳۸۰).

په دې ليدتوگه کې سوسور او چومسکي يـوه خـولـه دي چې ژبه د يوه تړوني غړيز سېستم په توگه له آره هـمـاغـه نانگېروړه (مجرده) ذهنـــــــــي پرلغښتې ټولگه ده، پـه همدومره توپير چې سوسور يې د غړېدا يا وينا (Parole) پر وړاندې (Langue) بولي او چومسکي يې د مخبنايي يا بهرنۍ ژبې پر وړاندې بېخبنايي يا دننۍ ژبه.

خو تـــر منځ يې يوازې دا توپير ټيکاو نه لري چې سوسور ژبنی غړيز يوون (واحد)، ((نښه)) بولي او چومسـکـي يـې ((سېمبول))، تر ټولو بنسټيز توپير دا چې سوسور دواړې بنې ((langue/ parole)) تــــــر يوه غونډنوم ((ژبـې - language)) لاندې راولي او چومسکي بهرنۍ يا مخبنايي ژبه د دننۍ يا بېخبنايي ژبې زېږنده راښيي.

د چومسکي له ليدتوگې سره سم دغه سېستم (ژبـه) هـر وگړی په ټولنه کې په منځنه توگه له زېږونه تر پينځکلـنـۍ پورې له مور، تيمور او نورو څخه د اورېدو او پـېـښـو لـه لارې ناسيده او نااگاهانه زده کوي. مانا دا چې ژبه يـــوه تړوني، ورهنيزه (کسبي) وسيله او ټولنيزه پديده ده. هـر انسان خپله مورنۍ (لومړنۍ) ژبه لـــــــه خـپـل انساني چاپېرياله زده کوي او يوازې په انسانانو پورې اړه لري.

د سوسور (۲۱-۱۸) د دې ليدتوگې له مخې چـــې د يـوه ځانگړي سېستم په توگه را پېژندلې، انساني ژبـــه د وبله پوهاوي او خبراوي (مخابرې) په چار و دنده کې يو شمېر نورې وزلې وسيلې، د زړو پوځي (اورلمبې، هـېـنـدارې يـا آينۀ برقي) رانيولې، تر بېلابېلـو لـيـکـنـي سـېـسـتـمـونـو، ټېلگرافي (مورز) اېبخې، ترافيکي څراغونــــــو، نغوتژبې (Sign language) او پژژبې (Body language) پـورې په نښپوهنه (Semiology) کې راځي.

نغوتژبه (Sign language) او پژژبه (Body language) سره په خپلو منځو کې پوره توپير لري. د لومړۍ رغـنـده توکي (نغوتې اشارې) څه ناڅه تړوني ټاکلې او پرلغښـتـې بڼه لري او د دې بلې (پژژبې) دا، که څه هم له ورته پـژنـي (بدني) خوځښتونو، لکـه د لاس، گـوتـو، سر، سـتـرگـو، تندي، اوږو، خولې، شـــــــونډو او نورو هغو څخه گـټـه اخلي، خو کوم تړوني يا ټاکلې بڼه يې نه لري. هسې خـو انسانانو ان د را پېژندلې (سېستماتيکې) ژبې تر رامنـځـتـه کولو، زرگونه - زرگونـه کـالـه پـخـوا دغـه دواړه ډولـه ((ژبې)) د خپلمنځي اړيکو د ټينگولو لپاره پر کـار اچـولـې چې هر گوره وار له مخه او را روسته هممهاله د ژويو پـه پېښو له هسې جړو پړو چغو پغو هم کار اخيست په تېره د واټن د لرېوالي او تيارې له کبله. نن سبا ژبه د (نښو) د سېستم پر ځای د (سېمبولونو) سېستم څکه بـولي چـې نښه پکې يو جاج يا مانا ښندي او سېمبول تر يوه جاج يـا مانا څو جاجونه او ماناوې را نغښتلای شي. سـوسـور او رغښتي پليوني يې د هر ژبني توک څـــــــــو مانيزوالـی (Polysemy) او همـمانـيـزوالـی (Synonymy) ردوي او زياتره پر دې ټينگار لري چې خبره يو پر يو ده، نه يو تـوک تر يوې زياتې ماناوې ښندلای شي او نه څو توکه يوه مانـا په گډه رانغښتلای شي.

دا هم بايد وويل شي چې خبراويزو او پـوهـاويـزو وزلـو وسيلو نن سبا د اوريزو، وينيزو (ويدويي) رسنيو په بڼه د ړندو کڼو او نورو کمتوانو (معيوبونو او معلولينو) لپاره لا پسې پراختيا او پرمختيا موندلې ده. هر گوره، د دود لـه مخې دغو بېلابېلو اړيکيــــــزو (ارتبا طي)، پوهاويـزو او خبراويزو اوزارو وسيلو ته کټ مټ، لکه د ژويـو د هـغـو غوندې ژبه وايو او همدا راز هـــنر، په تېره موسيقي او ان پيسې هم ((نړيواله ژبه)) بولو، چـــــې يوازې په اړيکـيـزو وسيلو کې راځي، نه په پوهاويزو او خبراويزو هغو کې!

دا توپير ړومبی ځل د نوي ژبپوهنې د پلار په توگه هماغـه سوېسي (فرديناند دې سوسور) د شلمې پېړۍ په لومـړيـو کې را برسېره کـــــــړ او نيمه پېړۍ را روسته امريـکـايـي فيلسوف او رياضي پوه ژبپوهاند (نووم چومسکـي) پـکـې هماغسې بشپړوالی او کره‌والی راوړ، لکه مارکس چـې د هېگل په دايلکتيک کې راوړ، په بله وينا، د هغـه نسـکـور دايلکتيک يې نيغ پر پښو ودراوه او تر هر څه له مخه يـې ((نښه)) پر سېمبول ور واړوله.

سوسور (۱۸۵۷-۱۹۱۳) ژبه ((language)) پر دوو برخو يا بڼو ووېشله: ((ذهني)) بڼه ((langue)) چې((ثابته)) او ((فردي)) ده او وينــــــــا يا غړېدا ((parole)) چې ((بې ټيکاوه)) او ((ټولنـــــــيزه)) ده (۱۱-۱٦). چومسـکـي (۱۹۲۸ زوکړه) بيا تـــر هر څه له مخه دواړې بڼې د ((يـوې ژبې)) رغنده ټوکه (متشکله اجزأ) نه، بلکې((دويمه بـڼـه)) د ((لومړۍ بڼې)) زېږنده وبلله.

پاسنيو جوړه نومونو ته چومسکي او پليونـو د بـېـلابـېـلـو گوتپېرو (زاويو) لـــــه مخې پراختيا ورکړه او په څو - څو نومونو يـــــا ستاينومونو يې ونومولې، لکه: دننـنـی- د باندېنی، آره- څېرمه، بېخبنايي- مـخـبـنـايـي، پـټـتـوانـه- کړنتوانه (بالقوه- بالفعله)، توانيزه- کړنيزه، ډېـر تـوانـه- کمتوانه يا نامحدوده- محدوده، ،نانگېـروړه- نـگـېـروړه، مانيزه- جوليزه يـــا مجرده - صوري. ( چومسکي-درزي۴۸-۵۱؛ باطنی: ۱۴۲-۱۳۴، ۱۳۸۵؛ يمين:۱۳٦۵، ۱۰۰-۹۹).

د سوسور په خبره يوه ژبنۍ نښه يا پيلامه، لکه لـيـکـپـاڼـه دوه سره نه بېلېدونکي مخونه لري، يو مخ يې غړيز يـوون (واحد) يا ويی دی او بل يې منځپانگه يا مانا. ده پـخـپـلـه لومړي ښوونډ (دال) Significant وباله او دويم ښوولـی (مدلول) Signifé چې انگرېزي جوړه يـې -Significant Significant راځي او جرمني هغه يې Signifikat - Signifi -kant

ژبه د چومسکي پر وړاندې له آره هماغه ده چـــې اړونـد ويونکي يې په وړکينه کې له نورو څخه د پـېـښـو لـه لارې نااگاهانه زده‌کړې او د سـېـمـبـولـونـو (ويـيـو، غـونـډو او غونډلو او بيا يې د ويو (قاعدو) د يوې پرلغښتـې ټـولـگـې ((سېستم)) په توگه په خپل ذهن کې زېرمه کړې وي. نـو همدغه سېستم يې چې تر څو کاروني (عملي) ډگر (وينـا، ليک) ته راوړی نه وي، يو نانگېروړ (نامحسوس) ذهني او مجرد شتون لري او آره او رښتينې ژبه همدا ده. وينايـيـزه يا کړنيزه، په نورو ټکو، جوليزه او نگېـروړه (مـحـسـوسـه) ژبه بيا د هماغې آرې ذهني ژبې زېږنده گرځي.

دا چې کله - کله ژبه پـه مـجـازي ډول لـه ((انـد)) سره هممانيزه کاروو، نااگاهانه يې لـــــــه ذهن سره تړاو ور زبادوو. لکه چې وايو: زه او دی سره په ژبه نـه پـوهـېـږو، موږ سره يوه گډه ژبه نه لرو...

د سوسور دا خبره چې د دغو نښو د دواړو اړخـو (دال و مدلول) ترمنځ تړاو (دلالت) تړوني (قـراردادي)، پـه بـلـه وينا، په هره ژبه کې د نښې يا سېمبول ارزښـت، مـانـا او چار د اړوندې ټولنې له خوا ټاکل شوی او د اورېدونکي له گوتپېره Intuition ورسره په څېرمه توگه مانيز او جوليز بلون تداعي (Association) رانغاړي، هغه هم را روسته رغښتوالو، په تېره د بلومفيلد (باطنی هماغه ۸۳-۸۵) پـه مخکښۍ امريکايي هغو دغه ((بـلـون)) او ((درک)) چـې سوسور څه ناڅه پامور باله، گرسره له پامه وغورځاوه. **پای**

## د پښتو او دري وييزي...

| پښتو | دري |
|---|---|
| تمام | تمام |
| توبره | توبره |
| جلو | جلو |
| جنگ | جنگ |
| جهان | جهان |
| چاره | چاره |
| چشمه | چشمه |
| چوپان | چوپان |
| خاک | خاک |
| خر | خر |
| خلوت | خلوت |
| خنک | خنک |
| خورجين | خورجين |
| خوگ/خوک | خُوگ |
| داد | داد |
| دانا | دانا |
| دربند | دربند |
| دستار | درستار |
| دل وجان | دل وجان |
| دلاور | دلاور |
| دم | دم |
| دوا/درمل | دوا |
| دواخانه | دواخانه |
| دوران | دوران |
| دوست | دوست |
| ديد | ديد |
| راست | راست |
| رخت | رخت |
| رمه | رمه |
| رنگ | رنگ |
| روزه/روژه | روزه |
| رياکاري | رياکاري |
| زحمت | زحمت |
| زخمي | زخمي |
| زر | زر |
| زينه | زينه |
| ژی/گوډی | ژی |
| سر | سر |
| سرگردان | سرگردان |
| سُرنا | سُرنا |
| سگوان | سگبان |
| سنگدل | سنگدل |
| سنگر | سنگر |
| سنگسار | سنگسار |
| سودا | سودا |
| سې شنبه | سه شنبه |
| سيل | سيل |

| پښتو | دري |
|---|---|
| تن | تن |
| تنور | تنور |
| جامه | جامه |
| جمعه | جمعه |
| جنجال | جنجال |
| چارشنبه | چهارشنبه |
| چربزبان | چرب زبان |
| چوپاني | چوپانی |
| خال | خال |
| خسر | خسر |
| خط | خط |
| خمار | خمار |
| خوار | خوار |
| خوراک | خوراک |
| خوی | خوی |
| دارو | دارو |
| داغ | داغ |
| درد | درد |
| دود | دود |
| دوشنبه | دوشنبه |
| روان | روان |
| ريا | ريا |
| زخم | زخم |
| زندان | زندان |
| زيان | زيان |
| زين | زين |
| سِل | سِل |
| ساده | ساده |
| سايه | سايه |
| سگواني | سگبانی |
| سوخته | سوخته |
| سود | سود |
| سېب | سيب |
| شروشور | شروشور |
| شغل | شغل |
| شکم | شکم |
| شليک | شليک |
| شناخت | شناخت |
| غمگين | غمگين |
| فضول | فضول |
| گل وگلزار | گل وگلزار |
| گله | گله |
| گمراه | گمراه |
| گومان(اند) | گمان |
| کار | کار |
| لاکن | لاکن |
| مار | مار |

| پښتو | دري |
|---|---|
| شغل | شغل |
| شېرين | شيرين |
| غرق/غرک | غرق |
| غمزده | غمزده |
| قربان | قربان |
| کس | کس |
| کمک | کمک |
| کوزه | کوزه |
| گام | گام |
| گچ | گچ |
| گرم | گرم |
| مابين | مابين |
| مراد | مراد |
| مرگ | مرگ |
| مريض | مريض |
| معلوم | معلوم |
| مهار | مهار |
| ناچار | ناچار |
| ناموس | ناموس |
| نرخ | نرخ |
| نی | نی |
| هفته | هفته |
| هوادار | هوادار |
| يکشنبه | يک شنبه |

| پښتو | دري |
|---|---|
| مرد | مرد |
| مرض | مرض |
| مشغول | مشغول |
| مشهور | مشهور |
| ميان | ميان |
| ناز | ناز |
| ناسور | ناسور |
| نامعلوم | نامعلوم |
| ناموس | ناموس |
| نېر/نفر | نفر |
| نخود | نخود |
| ننگ | ننگ |
| نۀ | نُه |
| نويشته | نوشته |
| نيم | نيم |
| هردم | هردم |
| هستي | هستی |
| هندوانه/هندوانه | هندوانه |
| هوا | هوا |
| وارخطا | وارخطا |
| وطن | وطن |
| يار | يار |
| يخ | يخ |

په پښتو او پارسي کـــــې يو اندازه گړنې يا وييونه شته چې د وخت په تېرېدو پکې غړيز بدلونونــــــــــــــه (Phonological Changes) ډېـر راغـلـي او اصلاً دغـه منځوی وييز جوړښت يې له لاسه ورکړی، د پښتو او پـارسي د دغه ډول گړنو(لهجو او وييونو) انـدازه ډېـره زيـاتـه ده، دلته د پارسي ځينې گړنې د پښتو له وييونو سره يـوځـای د گرانو لوستونکو خدمت ته وړاندې کېږي:

| دري | پښتو |
|---|---|
| اسب/آسپ | اس |
| اشک | اوښکه |
| انديشه | اندېښنه |
| آب | اوبه/اَبه/اِبه/اوبي |
| آتشگير | آتشکير |
| آشنا | آشنايي |
| بجول | بجله/بېدی |
| بروت | بربت |
| بسيار | بسياره |
| بُوقچه | بُوغچه |
| بيابان | بېوان |
| بيخ | بېخ |
| پدر | پلار |
| پهلوان | پالوان |
| تاريک | تاريکه |
| تفنگچه | توپنگچه/چومانچه |
| توشه | توښه |

| دري | پښتو |
|---|---|
| نيک | نېک |
| شُور šur | šór شور |
| درخت | درخته |
| فراوان | پرېوانه/پرېمانه |
| اسفند | سپېلنی |
| ريشخند | رشخند |
| شغال | څغال |
| روز | روځ/ورځ |
| دق | دغ |
| مرواريد | مرواري |
| جاروب | جارو/جاړو |
| خانه | خونه |
| مادر | مور |
| بار | وار |
| نماز | نمونځ |
| شبخون | شواخون |
| ناف | نُو |

| دري | پښتو |
|---|---|
| جدا | جلا |
| جفت | جوت |
| جل | ځل |
| جنگل | ځنگل |
| چادر | څادر |
| چندان | چندانې |
| چه | څه |
| خشکابه | خشکاوه/اوچوبه |
| خواب | خوب |
| خواهر | خور |
| خويش | خپښ |
| دامن | لمن |
| در | ور |
| درخواست | خواست |
| دريچه | دربچه |
| دستمال | دُسمال |
| دهل | ډول |
| ديوار | دېوال |
| ريگ | رېگ |
| زانو | زنگون |
| زباد | زبات |
| زبان | زبه/ژبه |
| زردک | زردکه/گازره |
| زن | زنانه |
| زنجير | زنځير |
| زنخ | زنه |
| زياد | زيات |
| زيور | زېور |
| ساربان | ساروان |
| سايبان | سايوان |
| سترگ | ستر |
| سفيد | سپين |
| شاباش | شاباښ |
| شادی | ښادي |
| شام | ماښام |
| شايسته | ښايسته |
| شهتوت | شاتوت |
| قاشق | کاچَغه/کاچوغه |
| کاش | کشکې |
| کِشپ، کشف/کيشو | |
| کشت | کښت |
| کشتی | کښتۍ |
| کشکول | کچکول |
| کفش | کوښه |
| کمياب | کميابه |
| کواسه | کوسی |
| گاوران | گوروان |
| گاوميش | گامېښه |
| گرد | گرځ/گرڅ/گرز |

| دري | پښتو |
|---|---|
| نهان | نهام، نيام |
| تاق | تاک |
| بادشاه/پادشاه | باچا/پاچا/پادشاه |
| زمين | زمکه/ځمکه/مځکه |
| چاه | څاه |
| فلان | پلانی/پلانکی |
| بازی | بازۍ |
| تاقچه | تاخچه/چاخته |
| شب | شپه |
| کبوتر | کوتره/کونتره |
| کمبود | کمبوت |
| شاخ | ښاخ |
| تابه | تبی/تبخی |
| بشقاب | غاب |
| بالشت | بالښت |
| کارگر | کاريگر |
| جای | ځای |
| پر | بر |
| صحرا | سارا |
| سرسری | سرسرکي |
| آخور | اخور |
| نيکان | نېکان |
| نشان | نښان |
| جان | ځان |
| آسيابان/سپوان | آسيوان |
| نام | نوم |
| ياد | يات |
| سروکار | سريکار |
| سِندان | سُندان |
| زمستان | زمی/ژمی |
| وزرگ | وزرگ |
| وقت | وخت |
| کُوچ | کوچ |
| تفنگ | توپک/ټوپک/ټِپک |
| برخی | برخه/بخره |
| ناهار | ناری |
| بادنجان | بانجڼ |
| کفگير | کوگير |
| سيبان | سپوان |
| روشنايی | روښنايي |
| آبدست | اودس |
| سبد/سبده | سوده |
| کژ/کج | کوږ |
| برگ | بلگ |
| بيگانه | بېگانه |
| جانکندن | ځنکدن/ځلکدن/ځنکندن |
| چرخ | څرخ |
| دسترخوان | سترخوان |
| شيوون | شيپون/شبان/شپون |

| دري | پښتو |
|---|---|
| گريبان | گرېوان |
| گور gur | گور gor |
| لشکر | لښکر |
| ماست | مستې/ماسته |
| ماهی | مايي/ماهي |
| مراد | مراد |
| مُرغ | مُرغه |
| مرگ | مرگ |
| مريض | مريض |
| مُزد | مَزد |
| معلوم | معلوم |
| مگر | منگر |
| مهار | مهار |
| ميش | مېږ |
| ناچار | ناچار |
| نادان | ناندام |
| ناراست | ناراسته |
| ناموس | ناموس |
| ناوقت | ناوخته |
| نرخ | نرخ |
| نزديک | نژدې/نږدې |
| نو | نوی |
| نياکان | نياگان/نيکه گان |
| نيست | نسته/نشته |
| نی | نی |
| وهم | وام |
| هفته | هفته |
| هميشه | همېشه |
| هوادار | هوادار |
| هيچ | هېڅ |
| هيرمند | هلمند |
| يکشنبه | يک شنبه |

| دري | پښتو |
|---|---|
| ديگ | دېگ |
| قالب | غالب |
| پسخند | پُسخند |
| دريا | درياب |
| تيغ | تېغ |
| نه | نه |
| چرب | څورب |
| نويشته | نوشته |
| نيم | نيم |
| مزدوری | مزدوري |
| هردم | هردم |
| شاد | ښاد |
| هستي | هستی |
| ميخ | مېخ |
| هندوانه | هندوانه/هندوانه |
| آفرين | اپرين |
| البت | البته |
| هوا | هوا |
| ريشه | رېښه |
| وارخطا | وارخطا |
| باغبان | باغوان |
| خدا | خدای |
| بز | بزه، وزه |
| هست | سته/شته |
| وطن | وطن |
| گران | گران |
| يار | يار |
| شيرين | شېرين |
| يخ | يخ |
| تيشه | تېشه |
| شکر | شکره |

گرانو لوستونکو! تاسې پورته د پښـتـو او پـارسي ويـيـز مشترکات وکتل؛ ښکاره ده چې پښتو او پـــارسي د ريښې (Origin) له پلوه له يو بل سره په آريايـــــــــي ژبکورنـۍ (Family Of Aryan Languages) کـې سره نـږدې اړيکې لري، د اوس لپاره دغه بحث زما له مـوضوع بـهـر دی؛ البته د پارسي او پښتو د ريښو د لرغـونـوالي پـه اړه يواځې ژبپوهان علمي ځانگړتيا لري چې په دې بـاره کـې وروستۍ پرېکړه وړاندې کړي، زه په دې اړه اصلاً هـېـڅ پرېکړه نه شم کولی چې په پورتنيو وييونـو يـا گـړنـو کـې کومه گړنه د پارسي او يا د پښتو ويی لرغونی دی، بيا هـم وايم چـــــــې دغه دنده د ژبپوهانو ده، دوی د آرپوهې (Etymology) د تاريخي لرغونتوب له مخې کـولـی شي چې د پښتو او پارسي گډې گړنې او گډ وييونه سره جلا او په دې برخه کې ژورې پلټنې او څېړنې وکړي، دا يـو څـو بېلگې مې گرانو لوستونکو ته د لارښوونې په هيله وليکلې او وړاندې کړې. **پای**

● ۱۴۰۵ل د زمري مـــــياشتې ۲۹
● ۱۴۴۸ق د ربیع الاول میاشتې ۷
● ۲۰۲٦م د اګست مـــــياشتې ۲۰

دريمه دوره
● پينځنی (پنجشنبه)
● د زمري ۹ - ۱۰ مه ګــــــنه
● پرله پسې (۴۷۳ - ۴۷۴ مه) ګڼه

## په پښتو ژبه کې د ماشومانو...

او تقرير ژبې هم وې او د همدې ژبو له ادبياتو يې د خپلو اولادونو د ښوونې او روزنې لپاره ګټه اخيسته. د دې پايله دا شوه چې د پښتنو واکمنۍ چې کابو تر اووه سوه کلونو پورې يې دوام وکړ، همدا ژبې يې د تعليم او ښوونې ژبې وې. بلکې د پښتنو تر واکمنۍ وروسته د مغلو زمام دارانو په همدې ژبو کې خپلې چارې پرمخ وړې. دا خبره په خپل ځای کره ده چې پښتنو شاعرانو او ليکوالانو پــــه خپلې مورنۍ ژبه کې نثر او نظمونه ليکل او د معياري ادب په پنځولو کې يې لوی لاس درلود. خو لـــــه بده مرغه په پخوانيو ليکوالانو کې يوه ليکوال او شاعر د ماشومانو د ادب لپاره کار نه دی کړی او نه يې دې پلو ته پاملرنه کړې ده. په پخوانيو ليکوالانو کې يو شخصيت داسې تېر شوی

هغه ژبې چې د اوسني عصر له غوښتنو سره سمې په سهي معنا پرمختللې دي، په دوی کې د ماشومانو لپاره ډېرى ادبي کتابونه، مجلې، رسنۍ او نور اړين ادبي مواد پنځول کېږي او هره ورځ چاپ او خپرېږي. د پښتو ژبې په تړاو ويلای شو چې په دې ډګر کې د عصر له غوښتنو سره سم کار نه دی شوی.

دی چې هغه د علامه واعظ کاشفي کتاب "کليله و دمنه" په پښتو نثر ژباړلی دی. همدا شخصيت د خوشحال خان خټک لمسی او د اشرف خـــان خټک زوی افضل خان دی او د اټکل له مخې همدا لومړنی کتاب دی چې په رښتينې ډول په پښتو ژبه کې د ماشومانو د ادب په صحيح معنا استازولي کولی شي. په همدې ډول يو بل کتاب چې د عمل په ډګر کې د ماشومانو او د لويانو لپاره په يو ډول د ګټې اخيستنې وړ دی هغه د شيخ سعدي ګلستان دی. دا کتاب هم د درسي مــــوادو د ګټې اخيستنې لپاره د خوشحال خان خټک زوی عبدالقادر خټک چې خپله هم د لوړې درجې شاعر او ښه نثر ليکونکی و، په پښتو ژبه کې وژباړه. له دې دوو کتابونو څخه پرته پـــه اوولسمې، اتلسمې او نولسمې پېړۍ کې د ګوتو په شمېر داسې ادبي او تحقيقي مواد موږ ته په لاس راځي چې پــــه ځانګړي ډول د ماشومانو لپاره په پښتو ژبــــه ليکل شوي وي. د نولسمې پېړۍ په ورستيو کې يو څه درسي کتابونه او يو څو داسې ژباړې په لاس راځي چې په يوه نه يوده ډول د ماشومانو ادبيات ورته ويلی شو. پـــه دې کتابونو کې د شمس العلماء رضواني "بهارستان او شکرستان"، د منشي احمد جان "د قصه خوانی ګپ" او "هغه دغه"، د ميا عنوان الدين کاکاخېل او د ميا حسيب ګل کاکاخېل کتاب "عنوان النصايح" د ميا محمد يوسف کاکاخېل ژباړه " توبة النصوح " او د ميا حسيب ګل کاکاخېل ژباړه "مراة العروس" د ژبې او معيار په لحاظ هغه کتابونه دي چې نه يوازې ماشومانو ترې ګټه اخيستلای شوه، بلکې ډېرى لوستونکي يې تجربه کار، لويان او د پخو عمرونو اشخاص هم وو.

په شلمې پېړۍ کې هم همداسې چارې رواني وې، که څه هم يو څو درسي کتابونه وليکل شول، خو ډېرى کتابونه د لويانو لپاره ليکل شوي وو. د (۱۹۳۵م) کال پورې په نصاب کې د تدريس لپاره د پښتو کتابونه د کوم مضمون په ډول نه لوستل کيدل.

په همدې کال په ابتدايه ښوونځيو کې د پښتو ژبې کتاب د ښوونځيو پــــــــه درسي نصاب کې شامل شو او د پښتونخوا په ټولو ابتدايه ښوونځيو کې يې لوستل پيل شول. دې بدلون دا اغيز وکړ چې شاعرانو او ليکوالانو هم د ماشومانو د ادب د پنځولو لپاره ملا راونغښتې. دا هغه وخت و چې په ټول هيواد کې د خپلواکۍ غوښتنې غورځنګ ښه په زور او درز کې روان وو، چې لـــــه همدې امله ډېرو شاعرانو د قومي او ملي ترانو په ليکلو لاس پورې کړ. له دې سره سم لنډو کيسو، نکلونو، اخلاقي او تهذيبي ادب غزونې وکړې. په دې موده کې د نثر په ډګر کې چې کومو ليکوالانو د ماشومانو د ادب لپاره ځانګړې هڅې کړې دي، په دوی کې عبدالخالق خليق، حـــــافظ محمد ادريس، سيـــد محمد تقويم کاکاخيل، عرب خان عرب، مير هلال، رضامهمندي او خان عبدالغني خان د يادونې وړ دي.

له ښه او معياري ادب سره په خوا کې ځينو ښاغلو د ماشومانو لپاره په نثر او نظم کې کوچنۍ کوچنۍ کيسې، ښکلي نظمونه، تدرسيي سبقونه، ملي ترانې او ملي نغمې وليکلې. د پېښور پښتو اکاډمۍ له پيل سره سم د ماشومانو د ادب اړتياو ته په کتو دې لورې ته ځانګړې پاملرنه وکړه او لــــــه ټولو څخه وړاندې يې د معروفو الفاظو يو کوچنی د لغاتونو کتاب وليکلو چــــــــې له ماشومانو سره يې د ادبياتو په ليکلو او لـــــــوستلو کې مرسته کوله. د لغاتونو همدا کتاب د هغو کتابونو لپاره بنسټ شو چې د اکاډمۍ لــه لورې د يوې ځانګړې پروژې لپاره ليکل کيدل.

په دې کتابونو کې کيسې، نکلونه، تاريخ، ادب، معاشرتي علوم، مذهب او د نوو معلوماتو او پـــــــه نورو ډېرو موضوعاتو کـــــې کابو درې اتيا کتابونه وليکل چاپ او خپاره شول. د تحريري ادب له دې پرمختګ سره سره د پښتو ادب يوه برخه د ماشومانو لپاره ځانګړې شوې ده چې د پښتو ولسي ادب يوه مهمه برخه شمېرل کيږي او بې شمېره کيسې، نکلونه، غړونه، معماوې، ټوکې او د منظوم ادب چې نه يوازې د ميندو، خويندو، اناوو او د نورو سپين سرو له خولو ماشومان اوري، بلکې داسې بې شمېره نظمونه نعري او داسې نـــور ډولونه شتون لري، چې د خپل چاپيريال او د عمر په مطابق د هر ماشوم او د هرې ماشومې په ژبه راځي. د پښتو ادب ګران بيه زيرمه په اصل کې هغه خزانه ده چــې د پښتو نسل د هر نوی زيږېدلي ماشوم د تربيت لپاره پـه کار راځي او دې لورې ته علامه اقبال په څرګند ډول نغوته کړې ده.

ملت آواره اندر کــــــــوه و دمن
در رګ او خـــــــون شـــيران موجزن
زيرک و روئين تـــــن و روشـــن جبين
چشم او چـــــون جــــره بازان تيزبين
قسمت خود از جهان نـــايافتـــــــه
کـوکب تقديـــــر او نا تـــــافتـــــــه
از حيات او حيات خــــــاور اســــت
طفلک ده ساله آش لشکرګر اســــت

بل کتاب چې د عمل په ډګر کې د ماشومانو او د لويانو لپاره په يو ډول د ګټې اخيستنې وړ دی هغه د شيخ سعدي ګلستان دی. دا کتاب هم د درسي موادو د ګټې اخيستنې لپاره د خوشحال خان خټک زوی عبدالقادر خټک چې خپله هم د لوړې درجې شاعر او ښه نثر ليکونکی و، په پښتو ژبه کې وژباړه. له دې دوو کتابونو څخه پرته په اوولسمې، اتلسمې او نولسمې پېړۍ کې د ګوتو په شمېر داسې ادبي او تحقيقي مواد موږ ته په لاس راځي چې په ځانګړي ډول د ماشومانو لپاره په پښتو ژبه ليکل شوي وي.

د پروفېسور محمد نواز طائر "پښتـــــو ژبې او ادب ته لنډه کتنه" اردو اثر پښتو ژباړه چې درې مقالې لري، پـــــــه بشپړ ډول د زېرى جريدې د ۱۴۰۴ل کال د مرغومې، سلواغې، کـــــــب او د ۱۴۰۵ل کال د وري، غويي، غبرګولي، چنــــــګاښ او زمري پــــه ګڼو کـې په پرله پسې ډول خپره شوه. اداره **پای**

## تیوري ولې غلطیږي؟...

او مهمه يې ګڼي؛ حال دا چې ادبي تيوري د معاصرو ادبياتو تر ټولو زوروره او انتهايي منظمه تله او ميتود دی، نه د دوی په اصطلاح ذهني تمرين او وسعت دی او نه دغسې لايعنيت ده؛ خو موږ پوهېږو چې دغسې يو فکر له تيورۍ سره د نابلدۍ يا د فکر او له ادبه بهر خارجي نظريې ته د ژمنتيا په وجه نسبت کېږي او د تيورۍ په اړه هغه مغالطه چې تقريباً پرلپسې له څو لسيزو راهيسې چلېږي لا هم دوام پيدا کوي.

ليکوال يو ځای لــه ادبي تيوري د ادب لپاره د يوې نا يوې پيمانې خبره هــم کوي، چې ګڼې هره هغه پيمانه چې د يوې فنپارې تشريح کـــوي دا تيوري ده؛ ځکه خو يې د روايتي نقد لــــــه مکتبونو او تمايلاتو نېولې تر سترو نظرياتـــــو او فکـري ډسکورسونو پورې ټول څه يې په ادبي تيوري کـې راوستي، چې دا که له يوې خوا تيوري ته بې ځايه نرګسيت ورکوي؛ نو بلخوا يې کمزورې دفاع هـــم ګڼلی شي او واقعيت يې هم داسې نه دی.

د ادبي تيورۍ مخالفين همدا نقطه پسې شاربي، چې دوی په همغه زوړ بنسټ د "څه" پر ځای د "څنګه والي" يا "ادب د ادب لپاره نه د ژوند لپاره" په فورمولونو تمرکز کوي؛ خو دا اصلاً د دوی خپله مغالطه ده نه د ادبي تيورۍ؛ ځکه ادبي تيوري د خپل پراخ او متنوع ميتود په توګه يوازې د "څنګه والي يا طرز" خبره نه کوي، بلکې د "څه يا په متن کې د مضمون، مانا او منځپانګې" په اړه يې هم د سپړنې طرز او ميتود له روايتي نقـــد او کره کتنې مختلف، نوی او ځانګړی دی. مثلاً په همدې کتاب کې د ښاغلي شهريار هغه اقتباس يا حواله يې يو قوي دليل او استدلال کېدای شي، چې يو متن لـــــه مانا مخکې او وروسته دوه ډوله لوست او رغښتونه لري؛ يعنې له مانا مخکې يې رغښت د "څنګه والي" او وروسته هغه يې د مانا يا پر "څه والي" دی، چې هيڅ مانـــــا يې حتمي او قطعي نه ده.

همدا ډول چې د ساختياتو د مضمون په اخره کې يې د سوسور پر ژبني ماډل کومې پوښتنې پورته کړې، هغه هم بغير له امتيازي بحثه نور کوم ارزښت نه لري، بل دا چې دا هم د ادبي ساختياتو يا رغښتوالي اړوند بحث نه دی او نه هم د ادبي ژبنيو اصولو سره کوم تړاو لري، البته د يوه ماډل همغه فرسوده بحث ضرور دی، چې اول چرګه پيدا ده او که هګۍ!؟ پر همدغه پله يې چې د رغښت ماتې يا د ده په اصطلاح د رد رغښت په پايله کې کوم څه اخذ کړي تقريباً ټول څه يې د تامل وړ دي.

ټول تامل يې په دې مانا چې اکثريت پايلې يې د ادبي هغه تيوري پر ځای پر ټولنيزو، فکري او فلسفي يا خاص موضوعي تشريح او تحليل بحث کړي دي، دا هغه څه دي، چې تقريباً په ټول کتاب يې هم اثر شته؛ ځکه خو په دغه کتاب کې حتی پـــه هر خبره او پيراګراف خبره کېدای شي، چـــــې دی د همداسې يوستوي ضرورت او بيړنې تمايل په توګه په دغو موضوعاتو غږېدلی، خو دا موضوعات هم ځکه نيمګړي دي، چـــــې حتی ياد کړي قسمونه (سره له دې چې ډېر يې قسمونه نه دي) هم نه دي راوړي؛ بلکې په دغه شته راوړو موضوعاتو کې يې هم اکثريت د تيورۍ خپل ادبي يا خالصو تمايلاتو سره تـــړاو کمزوری يا ښه ده وواېو نشته.

د دغه کتاب يا تيورۍ پېژندنې يـو بل ورته مشکل دا دی، چې اصل مبحثونه ترې په همدې وجه ګډوډ شوي دي، چې تمرکز يې هر اړخيز دی يا په شعوري ډول غير ادبي نظرياتي شوی دی، چې حتی د پايلو او نتايجو ټولې راپورته کړې پوښتنې يې د همداسې غير ادبي او نظرياتي اساس لرونکي دي، چې د تيورۍ له عموميت سره يې چندان رابطه نه جوړېږي او همدې څه پـــــه اکثريت تعريفونو کې کنفيوز يا دوه زړی کړی هـــــم دی؛ مثلاً د ادبي تيورۍ په تعريف او پېژاند کې هم يو ډول عمومي تعريف يا ډېر دقيق تعريف ته يې نه دی رسېدلی کله "تيوري د ادب د تشريح، توضيح او تفهيم د پاره يو جوړ شوی چوکاټ يا دايره ګڼي" او کله يې "له نقد او تنقيد بېل د متن د توجيهاتو او تشريحاتو يوه طريقه بولي" حال دا چې پــــه دقيقه او معاصره مانا ادبي تيوري نه د ادب په دغسې عمومي تفهيم خبره کوي (چې دا اصلاً د ادبپوهنې برخه ده) او نه له نقد او تنقيد بېل ارزښت دی؛ بلکې په اوسمهالي تعريف دا د ادبي او تخليقي متونو د هيئت او ماهيت د سپړلو نوی طرز او ميتود دی، چې په خاصه مانا د نقد او کره کتنې اساس او بنسټ هم دی.

ليکوال يو ځای له ادبي تيوري د ادب لپاره د يوې نا يوې پيمانې خبره هم کوي، چې ګڼې هره هغه پيمانه چې د يوې فنپارې تشريح کوي دا تيوري ده؛ ځکه خو يې د روايتي نقد له مکتبونو او تمايلاتو نېولې تر سترو نظرياتو او فکري ډسکورسونو پورې ټول څه يې په ادبي تيوري کې راوستي، چې دا که له يوې خوا تيوري ته بې ځايه نرګسيت ورکوي؛ نو بلخوا يې کمزورې دفاع هم ګڼلی شي او واقعيت يې هم داسې نه دی.

په دې کتاب کې يو بل بې خونده يا په اصطلاح د شېرنيز اهميت هغه د مأخذونو او تعريفونو بېروبار دی، چې د نصاب له رواجي ميتودونو يې هم څو چنده زيات لومړيتوب ورکړی، ډېرى تعريفونه يې له زړو يا پخوانيو مبحثونو سره تړاو لري، همدا ډول يــې د مأخذونو له طرزه نېولې د خبرې يا اقتباس تر مفهومه يې يو ډول تصنع لري او ډېر کله خو بېخي پــــه کې بې ضرورته هم ښکاري لکه ښاغلی ليکوال چــــــې خامخا د تيورۍ د جوړولو په ماهيت کې د سوال کـــــولو اقتباس راوړي؛ يعنې هره خبره او يا هرې خبرې کولو تـــه څه ضرورت؟ ځينې قواعد د يوې پديدې طبعي يا وجودي اړتيا وي که موږ يې وايو يا نه خو دا يې د جوړښت يا رغښت حتمي برخه وي، بيا ځينې ځانګړنې خو يې د داخلي هغو پـــر ځای خارجي هم وي، دا تفکيک او توپير يې هم مهم وي.

ليکوال يو ځای له ادبي تيوري د ادب لپاره د يوې نـا يوې پيمانې خبره هم کوي، چې ګڼې هره هغه پيمانه چـــې د يوې فنپارې تشريح کوي دا تيوري ده؛ ځکه خـــو يې د روايتي نقد له مکتبونو او تمايلاتو نېولې تر سترو نظرياتو او فکري ډسکورسونو پورې ټول څه يې په ادبي تيوري کې راوستي، چې دا که له يوې خوا تيوري تـــــه بې ځايه نرګسيت ورکوي؛ نو بلخوا يې کمزورې دفاع هم ګڼلی شي او واقعيت يې هم داسې نه دی.

"ادبي تيوري پېژندګلو او قسمونه" چې د ښاغلي محب وزير نيمه تدريسي اثر دی، د همداسې يوه کمزورې او نيمه ذوق په اساس په نيمه او نيمګړې زيار او تمايل ليکلی او نيم ښه اثر دی، د نيم او نيمګړې دغه پرلپسې تکرار شايد تاسې د جملو او کلمو تسلسل يا تصادف وبولئ؛ خو زه يې د استدلال لپاره لاندې څو خبرې يوازې د استدلال لپاره هم نه راوړم؛ بلکې د ادبي تيورۍ د لوستونکيو لپاره د يو څو ناسمو پوهايو روناوی هم لازم او مهم بولم.

په دې کتاب نورې ډېرې خبرې او په ناسم والي يـــې ډېر بحث کېدای شي؛ خو مهمه يې همدا وه، چې ډېرى وخت ادبي تيوري ځکه غلطېږي، چـــــې لېکوال يې د همداسې يوه نظرياتي تړاو په اساس معرفي کوي او له دې زاويې يې هم د ادبي تيورۍ تحليل يا پېژندنه ترې اغيزمنه وي، همدا ډول د تاييد پر استدلال يې هم همدا نظرياتي سيورى غوړېدلی وي، چې د ګټې پر ځای يې په غير مستقيم ډول د تيورۍ په تاوان اوړي.

ما چې د خبرو په سر کـــــې د نيم ښه والي کومه خبره وکړه، هغه يې په نصاب کـــــــې د دغسې کتابونو او موضوعاتو ځايول دي؛ خو ځدای دې وکړي، چې دغه ځايول يوازې فېشن يا د خانې د ډکولو لپاره نه وي؛ بلکې سنجيده، محسوس او د رښتينې ګټې په هدف زموږ د بحث و مباحثې برخه وګرځي. **پای**

## "صديق خټک" صاحب ديوان...

چې ثابت په شريعت شـــې
نور سالک د حقيقت شـــې

د توحيد ډيوه کړه بلـــــه
چې روان په طريقت شـــې

بې پرواهه به رفتن کـــړې
چې د پير په معرفت شـــې

د تلقين ذکر حاصل کـــړه
چې مشغول په محبت شې

صديق په کلاسيکي ادب کـې د اوچتې پايې شاعر دی. د صديق په شاعرۍ کـــــې د ژور او لوړ فکر نمونې زمونږ مخې ته راځي. د ده لـــــــه شعر معلومېږي چې په کلاسيکي شاعرانو کـــې د کاظم خان شيدا، عبدالحميد مومند، علي خان او معزالله خان د درجې شاعـــر دی. کومه نازک خيالي او فکر چـــې د عبدالحميد مومند او کاظم خان په اشعارو کـې ښکاري، د صديق په شاعرۍ کې د فکر و فن په لحاظ پوره نزاکت او رومانيت نه ډک غزلونه هم موندل کيږي. لکه چې وايي:

چې په زړه يې خيال د ښکلي مخ شيرين کيناست
زيبور شو پـــــــه چمن چې نسرين کيناست
د جبين خولو ته ستـــــــــا هومره حيران يم
چې لــــــــــه کومه په ماه دا پروين کيناست
د يوسف بادشاهي ګوره پس لـــــــــه بنده
تل خوښې شوه د هغه چــــــې غمګين کيناست
د غونچې ښايست نشست د بورا ډېر کـــــــــا
عجب خال دې چې پـه مخ باندې شين کيناست
چې په عشق کـــې صديق ستا انګشت نمای شو
ځکه غړ اوس د فــــــــرهاد و شيرين کيناست

او د بل غزل مطلع يې دا رنګه ده:

چې سبا دې په باړخـو زلفينې چين کړې
په چين دې څو خجل نافې د چين کړې

د صديق په شاعرۍ کې د خوشحال بابا اغيزه ډېره زياته ليدل کيږي، په خپل غزل کې وايي:

دا غزل د خـان د دې غزل جواب دی
که دا ستا سترګې وجار باسم ځان ته

خوشحال بابا وايي:

چې په خپله افغاني ژبه نادان دی
په ترکي خبرې څه وايي افغان تـه

صديق وايي:

زه پښتون لا په پښتو ژبه کښې اړ شم
ته و ما ته ترکي خبرې څـــــو کړې

خوشحال بابا وايي:

په چا داد په لپه نمځ کوي فلکه
په چا لونې په اوړيو پـه چجونه

صديق وايي:

څوک محتاج د يوه نان لري فلکـــه
په چا داد په خروارونو په رشو کړې

خوشحال بابا وايي:

په ژړا مې ځنې خواست د سپينې خولې کړ
په خندا يې وې چې څه کــــــا دا سړی

صديق وايي:

په ژړا مې ورته وې بوسه بــــــه راکړې
په خندا يې راته وې چې وار کړه شي به

د صديق پـــــه شاعرۍ کې د رحمان بابا اغيزه هم ليدل کيږي، لکه چې وايي:

بل غزل په انتخاب چې کړې صديقه
د رحمان د غـــزل بس دې دا جواب

صديق په شاعرۍ کې د ننګ، غيرت او ميړانې ستاينه داسې کوي:

ميړني په ميړنتوب ســــــره ياديږي
د نامردو کله څوک وايي سنـــــدرې

د زمري نامه پرې کيږده زمرى څـــــــه دی
ځوان چې ځان کاندي د تورو په ميدان غوځ

د صديق خټک د مړينې نيټه نه ده معلومه، مزار يې د جهانګيرې نــــه سهيل طرف ته اووه لس (۱۷) کلوميټره لرې د خاورۍ کلـــــې سره نزدې د ضلع نوښار په تنګاړو کلي کــــې د خپل پلار فقير جميل بيګ رح سره په څنګ کې په جلا چار ديوارۍ کې دی.

ياده دې وي چې (د صديق خټک په شاعرۍ د خوشحال خټک او د رحمان بابا د سبکونو اثرات) تر عنوان لاندې محمد خاطر د محترم ډاکټر جاويد اقبــــــــال صاحب چيرمين پښتو څانګه اسلاميه کالج پوهنتون پيښور پـــــه نګرانۍ کې مقاله هم ليکلې ده. **پای**

# زېرى

د تأسيس کال ۱۳۱٦ هجري شمسي

علمي- څېړنيزه، ادبي ټنکلس ورځنۍ جريده

د ۱۴۰۵ ل.کال، د زمري مياشتې ۹- ۱۰مه ګڼه | پرله پسې ۴۷۳- ۴۷۴ مه ګڼه

مسؤول مدير: څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورين

مهتمم: نوماند څېړندوی جاويد افتاب

کمپوز او ډيزاين: دوکتور خاورين

کتنپلاوی: اکاډمېسين څېړنپوه دوکتور سيد محي الدين هاشمي، څېړنوال دوکتور محمد اسحق خاورين
څېړنوال رحيم الله حريفال، څېړندوی احسان الحق کبير، څېړندوی مطيع الله ساحل

برېښناليک: zerai1316@gmail.com / zeray1316@asa.gov.af

د اړيکي شمېرې: (+93) (0) (780831960)
(+93) (0) (202201279)

● په زېرې جريده کې له سرليکنې پرته، د نورو ليکنو سپيناوی په ليکوالو پورې اړه لري.

د افغانستان د علومو اکاډمي
د ژبو او ادبياتو مرکز
څېړنيز ارګان

www.asa.gov.af

د علومو اکاډمي، د ژبو او ادبياتو مرکز، توره باس خان څلورلارې، نوی ښار کابل- افغانستان

د يوې ګڼې بيه: پنځه افغانۍ




# "صديق خټک" صاحب ديوان کلاسيکي شاعر

مياوکيل شاه فقيرخيل

په پښتو ادب کې د خوشحال خان خټک کورنۍ ته ډېر لوړ مقام حاصل دی. کـــه خوشحال بابا دی او که د هغوي زامن، پښتو ادب ته يې په نثري او منظومه توګه لويه برخه ورېخښلې ده. دغه شان د خوشحال بابا ورور فقير جميل بيګ چې پـه جمال خان، جميل خان او په روحاني دنيا کې په خواجه جمال الدين او فقير بابا شهرت لري، په فارسي او پښتو ادب کـــې نثر او شعر دواړه ويلي او ليکلي دي. هر کله چې دغه ټوله کورنۍ د شعر و شاعرۍ له فن واقفه ده نو د مياجميل فقير بابا زامن هم لـــکه د پلار او تره خوشحال بابا او د زامنو په شعر و شاعرۍ، پښتو او فارسي ادب باندې پوهه او علم لري او دغه شان يـــې خپل روايات مرګون ته نه دي ورکړي. په دغه کورنۍ کـــې د فقير جميل بيګ زوی صديق خټک د پښتو ژبـــې صاحب ديوان کلاسيکي شاعر دی. د تاريخ مرصع په حواله جميل خان فقير بابا څلور بيبيانې او ديارلس (۱۳) زامـــن درلودل. له لومړۍ بي بي چـــې نوم يې بي بي بصري وو، څخه درې زامن محمد حسن، محمد صادق او محمد شائق وو. لـــه دوېمې بي بي رابعه څخه يـــې پنځه زامن وو چـــې په هغو کې صديق په درېيم نمبر و.

صديق په ۱۰٦۰ هـ کې په چشمۍ (اکوړې) نوښار ضلع کې زيږېدلی و. څکه خو په يو شعر کښې وايي:

که د زړه رضا دې ده چې مجنون ګورم
تر مجنون صديق بتر شته پـه نوښهر

او د خپل کلي چشمۍ چې په خوړه علاقه کې واقع دی، د خوړې د کرکڼې د انارو سره تشبيه کوي او وايي:

چـــــــې د زړه په راز نه پوهېږې څه کړم
پـــه خصلت کې مهمندې کړې خدای د خوړې
د انارو سرې دانـــــــــــې پېژندې نه شي
خدای و تـــــــا ته کړې انار کرکڼې زيړې

يادونه: مهمندي د خوړې خټک دي

صديق د پښتو، فارسي او عربي لـــوی عالم، صوفي او شاعر و. د خپل پلار فقير جميل خان نـــه په چشتيه او سهرورديه سلسله کښې ماذون وو او د پلار تر وفات پس سجاده نشين شو. د شجره نسب لړۍ کې يـــې زه ميا وکيل شاه فقيرخيل د صديق پـــه اولاد کې شمار يم.




صديق د پښتو ژبې په نومورو کلاسيکي شاعرانو کې شمار دی. ديوان لري چې په لومړي ځل په کابل کـــې د دوست شينواري پـه ترتيب سره چاپ شو او په دوېم ځل د مياوکيل شاه فقير خيل د سمونې، څېړنې او فرهنګ سـره دانش خپرندويه ټولنه کـابل چاپ او خپور کړو.

کله چـــې د خوشحال بابا د مغلو ســـــره مخالفت او دشمني شوه نو خوشحال بابا او د دوی د خاندان نورو شاعرانو په خپلو شعرونو کې د مغلو غندنه او تـــرې د نفرت اظهار کوي. د دغه خانداني رقابت او مخالفت په وجه صديق هم د مغلو سپکه او نفرت په خپلو شعرونو کې ښکاره کړې او لکه چې څنګه خوشحال بابا په خپلو شعرونو کـــې د پښتنو بې اتفاقي ژړلې ده، دغه شان صديق هم پـــه خپلو شعرونو کې د پښتنو د بې اتفاقۍ، نـــامردۍ او د مغلو د نمک خوارۍ اظهار په شعرونو کې کړی او وايي:

توره شړۍ ښه ده نيمه لنګ نيمه پـــه ســــــر
ورک شه د مغلو د بخشش منديل په ســـــــر
واړه ليوني شول پښتانه چـــې پسې زغلـــــــي
ننګ وته يې شاه کړه لــه مغلو غـــــــــواړي زر
حق د پښتنو دی که اوس بيا د ننګ دپـــــــاره
سور په شهزاده کا دغه تـــــــور خونې خېبر
وړاندې زه هلک وم چې پرې ډوب محمد امين شو
ښه ښه شهيدان وو ډېر مغول شول پرې ډبـــــر
نه مومند ايمل شته نه خوشال شته نه دريا شتـه
نه لښکر غلجي له پښتنو خالي شو غـــــــــر
هېڅ نه نابوده يوسفزي د ننګ په کار کـــــــــې
نوم يې د زمري دی تر شغال دي لا بتـــــــــر
حال د پښتنو د ننګ په کار کې راښکاره شـــــو
واړه هېڅ کاره دي بې حيا نامرد بشـــــــــــر

يادونه: محمد امين (د مغلو ګورنر) سره د پښتنو د خېبر جنګ په کال ۱۰۸۳هـ کې شوی و، دغه وخت صديق د درويشتو (۲۳) کلونو و.

د صديق شاعري عشقيه او رنګينه شاعري ده چـــې د حســـــــــن جمال عشق و محبت، پنـــد و نصيحت، عشق حقيقي او عشق مجازي او اخلاقياتـــو لـــــــــــه درس نه ډکه ده، د تصوفي شاعرۍ نه يې يو څو شعرونه راوړو.

۳مخ

# ادبيات څه ډول کلتوري پرمختګ ته انعکاس ورکوي؟

دوکتور مسعود پښتون

ادبيات د هرې ټولنې د فکري، فرهنګي او تاريخي ژوند او پېښو ژوندي اسناد دي. دا د انسان د فـــکر، احساس، ارزښتونو، باورونو او ټولنيزو تـــجربو هنري انځورونه وړاندې کوي او د ټولنې د فرهنګي هويت پـــه جوړښت، ساتنه او پراختيا کې بنسټيز رول لري. څکه خـــو ادبيات يوازې د ښکلا او هنري بيان وسيله نـه بلل کېږي، بلکې د يوې ټولنې د کلتوري پرمختګ هنداره هم ګڼل کېږي. هـر هغه بدلون چې د ټولنې په سياست، اقتصاد، تـعليم، دين، اخلاقو، ټکنالوژۍ او ټولنيزو اړيکو په ډګرونو کې رامنځته کېږي، د ادبياتو په محتوا، ژبـــــه، سبک او موضوعاتو هم خپل انعکاس کوي او اغېزمنوي يې. لــه همدې امله د ادبياتو او کلتوري پرمختګ اړيکه دوه اړخيزه ده؛ ادبيات له يوې خوا د ټولنې د کلتوري بدلون انځور وړاندې کوي او له بلې خوا د همدې بدلون په رامنځته کولو او چټکتيا کې اغېزناک رول لوبوي.

ادبيات د کلتوري پرمختګ د انعکاس، ارزونې او لارښوونې تر ټـــولو اغېزمنه وسيله ده. دا د يوې ټولنې تاريخي حـــافظه، فکري وجدان او فرهنګي هويت خوندي ساتـــي او د راتلونکو نسلونو لپاره د زده کړې، الهام او نوښت سرچينه ګرځي.

ادبيات د ټولنې د فکري او اخلاقي ودې يو مهم بنسټ دی. ليکوالان او شاعران د خپـــلو اثارو له لارې د خلکو تجربې، هيلې، ستونزې، بـــرياوې او ناکامۍ بيانوي او د ټولنې د وګړو ترمنځ د متقابل درک، زغـــم او همدردۍ فضا رامنځته کوي. همدارنګه ادبيات د انساني ارزښتونو لکه عدالت، ازادۍ، مساوات، سولې او بشري کرامت د پياوړتيا لپاره اغېزمنه وسيله ده. د نړۍ په بېلابېلو ټولنو کې ګڼو ادبي اثارو د ټولنيزو اصلاحاتو، فکري بيدارۍ او سياسي بدلونونو لپاره الهام بښونکی رول لوبولی او په دې برخه کې يې ټولنيزو بدلونونو ته لاره هواره کړې ده.

کلتوري پرمختګ په ادبياتو کې په بېلابېلو بڼو منعکس کېږي. کله چې د يوې ټولنې ارزښتونه، دودونه، باورونه، اقتصاد، سياست او د ژوندانه طرز بدلېږي، ادبيات هم له همدې بدلونونو سره سم نـــــوي موضوعات، نوي سبکونه او نوې ادبي لارې خپلوي. د بېلګې په توګه، د شلمې پېړۍ په لومړيو کې د افريقايي ـ امريکايي ټولنې د فرهنګي بيدارۍ خوځښت (Harlem Renaissance) د هغو ليکوالانو د راڅرګندېدو لامل شو چې د خپل قوم هويت، مبارزه او کلتوري ارزښتونه يې په ادبي ژبه بيان کړل. همدارنګه د استعمار له پای وروسته د افريقا او اسيا ګڼو ليکوالانو د هويت، ازادۍ، کلتوري خپلواکۍ او استعماري ميراث په اړه اثار وليکل، چې د خپلو ټولنو د کلتوري بدلونونو څرګند استازيتوب کوي.

ادبيات يوازې د فرهنګي بدلون انعکاس نه کوي، بلکې د کلتوري پرمختګ د رامنځته کولو ځواک هم لري. ادبي اثار کولای شي د ناسمـــو دودونو، ټولنيزو نـــابرابريو، جنسيتي تبعيض، قومي تعصب او استبداد پـــر وړاندې انتقادي دريځ غوره کړي او خلک د مثبت بـــدلون لپاره وهڅوي. د نړۍ په ادبياتو کـــې ګڼ شمېر مشهور اثار د ټولنيزو خوځښتونو د پياوړتيا سبب شوي دي. لکه، د جورج اورويل ناول ۱۹۸۴م کال د استبدادي نظامونو پر وړاندې د ازادۍ او انساني حقونو په اړه نړيوال بحثونه پياوړي کړل. د مارګرېټ اټوود د خدمتګارې کيسه (The Handmaid's Tale) د عدالت په اړه پوهاوی رامنځته کړ. همدارنګه د هرييټ بيچر سټو ناول د انکل ټام کوټه (Uncle Tom's Cabin) د غلامۍ ضـــد غورځنګ د پياوړتيا له مهمو ادبي اثارو څخه شمېرل کېږي.

په معاصر ډيجيټلي عـــصر کې، چې نړۍ ورځ تر بلې سره نږدې کېږي، ادبيات لا هم د کلتوري تفاهم، انساني ارزښتونو، ټولنيز عدالت او نړيوالې همغږۍ په پياوړتيا کې خپل بنسټيز رول لوبوي. له همدې امله، د هرې ټولنې د دوامدار فرهنګي پرمختګ، علمي ودې او تمدني پرمختګ لپاره د ادبياتو پياوړتيا او پراختيا يوه اړتيا ګڼل کېږي.

له بلې خوا، کلتوري پرمختګ هم د ادبياتو پر محتوا او بڼه ژور اغېز لري. د علم، ټکنالوژۍ، نړيوالتوب او ډيجيټلي اړيکو پراختيا د ادبياتو نوې ژانرونه او نوي ادبي جريانونه رامنځته کړي دي. د ساينسي تخيل، سايبرپانک، ډيجيټلي ادبياتو او برېښنايي داستانونو پراختيا د همـــــدې تحول څرګندې بېلګې دي. نن ورځ ليکوالان د مصنوعي ځيرکتيا، مجازي نړۍ، ډيجيټلي هويت او نړيوالو کلتوري تعاملاتو په اړه ليکنې کوي، چې د معاصرې نړۍ د فرهنګي بدلونونو څرګند انعکاس دی.

په معاصره نړۍ کې ادبيات د کلتورونو ترمنځ د تفاهم او بين‌الفرهنګي اړيکو د پراختيا لپاره ځانګړې اهميت لري. د ژباړې، نړيوالو خپرونو او انلاين ادبي ټولنو لــه لارې د بېلابېلو ملتونو ادبي تجربې يو بل ته لېږدول کېږي، چې د متقابل درناوي، فرهنګي تنوع او نړيوالې همـــــکارۍ د پياوړتيا سبب ګرځي. ادبيات د مختلفو قومونو او ملتونو ترمنځ د فکري پل حيثيت لري او د انسانانو ګډ ارزښتونه پياوړي کوي، چې په ټوله کې دا کار (نړۍ د يو کلي) پـــه څېر ده نظريې ته د عمل جامه پيدا کوي.

د افغانستان د ادبياتو تاريخ هم د کلتوري پرمختګ روښانه بېلګه وړاندې کـــوي. د خوشحال خان خټک، رحمان بابا، حمزه شينواري، غني خان، ګل پاچا الفت او ګڼو نورو اديبانو آثار نه يـــوازې د خپل وخت ټولنيز، فرهنګي او سياسي حالات منعکسوي، بلکې د ملي هويت، ژبني پرمختګ، اخلاقي ارزښتونو او فکري بيدارۍ په پياوړتيا کې يې مهم رول لوبولی دی. که څه هم په دې اثارو کې ګيلې، نيوکې او مايوسي لېدل کېږي، خو کلتوري برخه يې تر ټولو درنه او پياوړې ده:

**درست پښتون له کندهاره تر اټکه**
**سره يو د ننګ په کار پټ او اشکار**
**زه يـې چا لره وهم قدر يې چا زده**
**پـــه اور وسوځه دا تورې قلمونه**

د معاصرو پښتو ادبياتو ډېرى اثـــار د سولې، عدالت، تعليم، انساني حقونو، ټولنيز يــــووالي او پرمختګ موضوعات څېړي، چې د افغان ټولنـې د اوسني فرهنګي تحول څرګند انځور وړاندې کوي.

ادبيات د ټولنې د فکري او اخلاقي ودې يو مهم بنسټ دی. ليکوالان او شاعران د خپلو اثارو له لارې د خلکو تجربې، هيلې، ستونزې، برياوې او ناکامۍ بيانوي او د ټولنې د وګړو ترمنځ د متقابل درک، زغم او همدردۍ فضا رامنځته کوي.

د ادبياتو او کلتوري پرمختګ ترمنځ اړيکه يوه متقابله او نه بېلېدونکې اړيکه ده. ادبيات د ټولنې د ارزښتونو، دودونو، باورونو او بدلونونو هنداره ده، خو په عين وخت کې د همدې ارزښتونو د اصلاح، پراختيا او نوي کولو ځواک هم لري. هر څومره چې ټولنه علمي، فکري او فرهنګي پرمختګ کوي، هماغومره يې ادبيات هم بډايه کېږي؛ او هـــر څومره چې ادبيات وده کوي، په هماغه اندازه د ټولنې فرهنګي شعور، انتقادي تفکر او تمدني پرمختګ هم پياوړی کېږي.

ادبيات د کلتوري پرمختګ د انعـــــکاس، ارزونې او لارښوونې تر ټولو اغېزمنه وسيله ده. دا د يوې ټولنې تاريخي حافظه، فکري وجدان او فرهنګي هويت خوندي ساتي او د راتلونکو نسلونو لپاره د زده کړې، الهام او نوښت سرچينه ګرځي. په معاصر ډيجيټلي عـــصر کې، چې نړۍ ورځ تر بلې سره نږدې کېږي، ادبيات لا هم د کلتوري تفاهم، انساني ارزښتونو، ټـــولنيز عدالت او نړيوالې همغږۍ په پياوړتيا کې خپل بنسټيز رول لوبوي. له همدې امله، د هـــــرې ټولنې د دوامدار فرهنګي پرمختګ، علمي ودې او تمدني پرمختګ لپاره د ادبياتو پياوړتيا او پراختيا يوه نه جلا کېدونکې اړتيا ده. **پای**

# د شيدا د يوه شعر وضاحت

پروفيسور دوکتور حنيف خليل

**همېشه وي نرم چوب غذا د کرم**
**شيدا مه شه مرد خالي له سياسته**

دا شعر ګران نه دی خو شايد د چوب او کرم ټکو پکښې لږ مشکل پيدا کړی وي. چوب لرګي ته وايي او کرم هغه چينجي يا وينه دي چې لرګی له دننه خوري خو بهر نه لرګی روغ او سلامت ښکاري؛ ګڼي حقيقت کښې وينو دننه خالي کړی وي او د لرګي طاقت او مضبوط والی يې ختم کړی وي. اوس خبره اسانه شوه چې شيدا څه ويل غواړي. شيدا د مرد لپاره د سياست پوهه، طاقت، قوت او صلاحيت لرل لازم ګڼي. دلته يو خو مرد نه مراد يواځې سړی نه دی بلکې ښځه هم ده خو چې مردانګي يعنې قوت، صـــلاحيت او زيرکتيا ولري. لکه خوشحال بابا چې په يوه شعر کې ټکړه ښځې لپاره د سړی کلمه راوړې ده. بـــل سياست هم د غور وړ دی چې کله کله سياست په منفي معنو کې مکر فريب او چالاکۍ تـــه ويلی شي خو شيدا پـــه مثبت معنو کې راوړی دی. مثبت معنا يې څه ده؟ غور وکړئ.

سياست اصل کې عربي کلمه ده. مطلب يـــې هغه صلاحيت قوت، پوهه او زيرکتيا لرل دي چـــې د يوه ملک قام او ملت مشرې، نګراني او سمبالول پرې وشي او قام پرې راټول شي؛ په اېر يـــې خپل مـشر ومني. عربي کې ګورنر او د مـــلکي امورو سمبالوونکي ته مسياس وايي. يعنې سياست لرونکی يا سياسي اهليت لرونکی. دغه سياست کلمه په اردو، فارسي او ترکي ژبو کې هم په دغو معنو کې کارول کېږي.

اوس د شيدا په شعر غور وکړئ، چې چوب او کـــرم يعنې لرګی او چينجي يې ولې ياد کړي دي؟

د کور بام دغه کور د باران طوفان او هـــر افت نه خوندي ساتي او بام په لرګو ولاړ وي. لرګی که بهر نه کلک او سلامت ښکاري خو دننه وينو خوړلی او خالي کړی وي نو هغه خو بيا نه د بام بوج وچتولی شي او نه کور د افتونو نه محفوظ ساتلی شي، او نرم لرګي خو تل د وينو خوراک وي. دغه مثال د نرم مزاجه ساده بې اهليته او بې طاقته انسان هم وي يعنې په هره خبره دهوکه خوړونکی او کم عقل انسان هم لــکه د نرم چوب وي ډېر زر يې وينه وخوري او دننه نه يې خالي کړي. د پوهې زيرکتيا صلاحيت او قوت نه خالي انسان همدغسې وي لکه دننه خالي لرګی. بس مرد هغه دی چې د نرم چوب غوندې کم عقل او بې طاقته نه وي. د خپل قام او ملت بوج هم وچتولی شي او خپل قام او ملت لکه د مضبوط بام يا چت د طوفانونو او افتونو نه هم بچ کولی شي. بس مرد دې دغه قسمه سياست يعنې پوهې صلاحيت او د قامي بوج وچتولو طاقت نه خالي نه شي لکه د نرم لرګي چې وينو خوړلی وي او د چت بوج نه شي زغملی. ګويا مرد هغه دی چې وينو خوړلی نرم او دننه خالي لرګی نه وي بلکې د سخت او طاقتور لرګي غوندې د قامي بوج وچتولو صلاحيت لرونکی وي. څکه دې مرد چرې هـــــم له سياسته خالي نه شي لکه د چينجو خوړلي خالي لرګي چې د بام خوندي ساتلو په ځای بـــام سر د لاندې راګوزار کړي. تش لرګی سياستدان هـــم خپل قام دغسې سر د لاندې راګوزار کړي. بس خو جار له شيدا چې هر لور ته يې پام وو. **پای**


ZERAY
Afghanistan Sciences Academy (ASA)

Editor - In - Chief:
Associate Professor
Muhammad Ishaq Khawreen (PhD)

Assistant:
Nominee Assistant Prof. Javed Aftab

Compose & Layout Design:
Dr. Khawreen

Address: Center for Languages & Literature, Institute of Pashto Language & Literature (ASA)
Naway Khaar Kabul - Afghanistan
Contacts: (+93)(0)202201279/(+93)(0)780831960
Email:zeray1316@asa.gov.af/zerai1316@gmail.com